وحیدالله مصلح ۲۰۱۸/۰۷/۱۸

# سرطان کودتا که کودتايي سرطان؟

د غازي امان الله خان پر ضد تر وسله وال اړودوړ وروسته د څو لسیزو رامنځته شوی ثبات او ارامي یوې داسې کودتا ولړزوله چې پرچمیانو په کې ټاکونکې برخه لرله. د ۱۳۵۲ سرطان په شپږویشتمه محمد داودخان د محمد ظاهرشاه واکمني وپرځوله، چپیانو په دغه کودتا کې د محمد ظاهرشاه د شاهي ولسواکۍ لسیزې ته زندی واچوله، سیاسي تنوع يې ختمه کړه او یوازې چپیانو کولای شول چې ازادانه خپل فعالیتونه وکړي، خپل مخالفین ونیسي، وبې وژني او زندانیان يې کړي، د محمد داودخان د حکومت د کابینې تر نیمایي ډېره برخه پرچمیانو نیولې وه، دوی محمد داودخان له ټولو سیاسي لوریو وشکاوه او په دیني جهتونو کې يې د یو چپي پال رئیس جمهور په نوم مشهور کړ.

### پاچاهي؛ د ولسواکۍ لسیزه!

د محمد ظاهر شاه ولسواکۍ په لسیزه کې پراخ اصلاحات پر لار وو، یو په بل پسې حکومتونه عملاً له شاهي کورنۍ بهر له نخبه ګانو جوړ شول، د دې دورې تر ټولو غوره صدراعظمان شهید محمد هاشم میوندوال او شهید موسی شفیق ول، چې دواړه چپیانو د خپل نه زغم او حذف په مفکوره کې له منځه یوووړل.

پاچا غوښتل چې واک کرار کرار ملت ته انتقال کړي څکه خو يې ولسواکي په طبیعي پړاوونو کې تمرین ته وړاندې کړه، عملاً ګڼ ګوندیز سیستم رامنځته شو، پارلماني صلاحیتونو وده وکړه، لوی ملي داعیې د همدغه ولسواکۍ لسیزې په حکومتونو کې د حل درشل ته ورسېدې، د بېلګې په توګه له ایران سره د هېرمند د اوبو وېش يې ښه بېلګه ده، د ډیورنډ او پښتونستان د قضیو په اړه هم پر مناسبو حلونو غور پیل شوی وو.

اصلاً پاچا غوښتل چې په راتلونکې کې شاهي حکومت سمبولیکو پروتوکولونو کې پاتې شي او واک په خپل طبیعي پړاوونو کې خلکو ته انتقال شي، دا هغه مهال یو مترقي فکر وو او که شاهي دوره په همغه ولسواکۍ تجربه کې پاتې شوې وای نو نن به افغانستان د سیمې یو لوی سیال وای.

### سرطان کودتا؛ ولې؟

د ولسواکۍ لسیزې په همغه پیل کې شاهي کورنۍ خپل تعریف پیدا کړی وو، غړي يې پېژندل شوي وو، د شاهي کورنۍ هیڅ غړي نه شوای کولای چې په حکومت کې چارواکی شي، محمد داودخان هم د پاچا د تره زوی په توګه نور له واکمنۍ په تبعید کې شو، دا یو لوی عامل وو چې محمد داودخان يې د واک تر لاسه کولو لپاره نظامي عمل ته وهڅاوه.



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

محمد داود خان ته چپیانو د محمد ظاهر شاه شاهي دولت ړنګ کړ، هغه چې هغه مهال د ارتجاع د ټکولو، پښتونستان او اجتماعي عدالت پر محور خپل لومړنی سیاست اعلان کړ، په دغو ټولو زاویو کې ملت ښکاره لاسته راوړنه ونه لیدله، په دې ټولو کې چپیانو یوازې د ارتجاع په نوم ملتپالي او اسلامپالي وټکول، اعدام یې کړل او له وطنه یې په شړلو اړ کړل، پایله څه شوه؟ هغوی غبرګون وښود او دلته محدود وسله وال تقابل رامنځته شو او دا هر څه د افغانستان ملي ګټو ته لوی ټکان وو چې هم حکومت او هم د نهضت د هغه مهال سیاستونه په کې باید نقد شي.

## پښتونستان او کودتا؛ بله زاویه!

پښتونستان د کودتا د پیل لویه مدعا وه او پای چې کله داودخان له بهتو سره د پښتونستان داعیې ته حل لاره لټوله بله کودتا وشوه او داودخان یې دغې حل ته پرېنښود، دلته دا هم ډېره په زړه پورې ده چې د هغه مهال د افغانستان په سیاسي تناظر کې هره نظامي مداخله داسې مهال رامنځته شوې چې افغان حکومت له پاکستان سره د پښتونستان د قضیې په اړه د خبرو اترو حساس پړاو ته رسېدلی وو، داودخان لومړنی قرباني وو، ورپسې چې کله تره کي او محمد ضیاالحق په هاوانا او کابل کې کتنې وکړې د دوی د خبرو اترو یوه اجنډا هم د پښتونستان قضیه وه، تره کی هم د دې مسئلې تر پای مخکې پای ته ورسېد، حفیظ الله امین هم له پاکستان سره نوره دا قضیه حل کوله او په دې رابطه د کابل او اسلام اباد اړیکې ډېرې تودې شوې وې، امین هم په همدغه مرحله کې له منځه ولاړ او تر هغه وروسته نو بیا جګړې د شورویانو په راتلو سره د ازادۍ رنګ واخېست او نور نو د پښتونستان قضیه بابیزه شوه، دغه مرحله کې په افغانستان کې د پاکستان نقش په پراخه مداخله کې راغی او تر دې وروسته نو پاکستان نور افغانستان د پښتونستان تر قضیې ډېر ښکته وباله، افغانستان د چپیانو له لاسه د محمد ظاهرشاه او داودخان د سیالو حکومتونو له باوره وغورځېد، تر چپي کودتاو وروسته په کابل کې حکومتونه هیڅکله د قوي موقف او خپلواک حیثیته برخمن نه شول.

## د سرطان پر پل ثور کودتا!

سرطان کودتا د چپي موخو لپاره یو نظامي تمرین وو، چپیانو له یوې خوا د یو سوچه چپي حکومت په مخکې لوی خنډ شاهي دوره ړنګه کړه، او له بلې خوا یې په دغه کودتا سره په اردو کې خپل نفوذ او اعتبار تجربه کړ، او پای چې کله محمد داودخان خپل سیاسي خطونه بېلول نو دوی بیا په کې د بلې خونړۍ کودتا تهدابونه د محمد داودخان او کورنۍ پر هډونو پورته کړل.

د ثور کودتا په رامنځته کېدو سره ملت د چپیانو کور، کالي او ډوډۍ تجربه نه کړه، بلکه هغوی دې ملت ته غربت، وژنې، مهاجرتونه، د جنګ لوی مشین او د شورویانو اشغال او بې واکي راوړه، د ثور تر کودتا وروسته چپیان یوازې له ملت او مجاهدینو سره ونه جنګېدل بلکه تر هغو ډېر په خپلو منځونو کې وجنګېدل، د ثور تر کودتا وروسته لومړنی داخلي تقابل د خلقیانو او پرچمیانو وو، ببرک کارمل، نجیب، اناهیتا، محمو بریالی او ډېر نور د سفیرانو په نوم له حکومتي جوړښته وشړل شول، او په داخل کې پرچمي ډله تجرید او ورټل شوه، زندانونو ته ولېږدول شول او اعدام شول، په دویم قدم کې د خلق ګوند په داخل کې د تره کیانو او امینیانو خپل منځي شخړې داسې مرحلې ته ورسېدې چې امین په کې بیا د خپل فکري استاد تره کي پر خولې او سپېږمو بالښت ومنډه او ساه یې ترې وویسته، تر دې وروسته تره کیان بیا تجرید شول او زندانونو ته ورلېږدول شول، څو میاشتې وروسته پرچمیان له شورویانو سره راغلل، امین یې وواژه او پرچمیانو بیا د تېرو دوه کلونو کسات له امینیانو واخېست، اعدامونه او زندانونه یې پرې تطبیق کړل. وروسته

بیا د کارملیانو او نجیبیانو تر منځ کشمکشونه او بیا قومي ملېشو ته د دغو پرچمي فرکسیونونو سرایت بله چیپي داخلي شخړه وه، پر نجیب د جنرال اصف شور او شهنواز تني کودتا او پر تعقیب یې په نظامي لیکو کې د خلقي افیسرانو تعذیبونه بله مرحله وه، په خلقي جبهه کې د افقیانو او زرغونیانو برخوردونه په کې لا واړه وو. نو د چیپانو د تاریخ په دې لنډه مقدمه کې دا ثابتېږي چې چپیانو دلته یوازې جګړه وکړه، تشدد یې وکړ او هیڅکله یې لږ تر لږه په خپلو منځونو کې د ټیکاو او سولې بریالۍ هڅه ونه کړه.

## د مجاهدینو خونړۍ دوره!

د چپیانو تر رنګولو وروسته مرحله کې د اسلامي حکومت ارمانونه او موخې همدغسې بې وزنه شوې، یو بل جنګ شروع شو او د اسلامي حکومت پر ځای د وحشت یوه بوږنوونکې پاڼه د تاریخ پر مخ ثبت شوه. په کابل کې جهادي تنظیمونو او چپیانو په ګډه اور رابنکته کړ، په ولایتونو کې جهادي قومندانانو فرعونیت پیل کړ، یوه بدرنګه جګړه او ځنګلي حالت پر ټول افغانستان حاکم شو، بنسټونه ونړېدل او په دې ټوله موده کې لږ تر لږه هغه جهادي تنظیمونه چې فکري منشا او نظریاتي هویت یې ګډ وو سره وجنګېدل، او دې ټولې جګړې ته یې شرعي استدلال کاوه، ټولو خواو ایت او حدیث ویل او ځانونه یې پر حق ګڼل، خو هیچا د سولې لپاره د قرآن او احادیثو پاڼې نه اړولې او هیچا د سولې او مدني ژوند په اړه د نبوي سیرت منطق نه وایه، بس یوازې جنګ وو او چې منطق یې درلود!

## جنګ او د طالبانو واکمني!

طالبان راڅرګند شول، هغوی د ملوک الطوایفی په وړاندې ودرېدل، تمه دا وه چې د کابل په نیولو سره به هغوی د حکومت په اړه سینه پراخه کړي، ځکه پر پایتخت او حکومت تر سلطې وروسته د حکومت او خاورې واکمني نور د جنګي ډلې له حیثیته پورته خبره وه، حکومت معمولاً تر ډلو ډېر او پراخ مسئولیت لري، حکومت باید د ثبات، کرارۍ، سولې او پرمختګ لپاره د هېواد ډلو او خلکو ته مشروع تنازلات کړي وای، شریکان کړي یې وای او چلنجونه یې پر فرصتونو اړولي وای، خو په دغه مرحله کې دا هیڅ تر سره نه شول، د کابل تر نیولو وروسته هم مسلسل جنګ وو، هیڅکله د سولې او خبرو اترو کانالونه کومې پایلې ته ونه رسېدل، یوه مسلسله جګړه وه چې هلته هم د جنګ ټولو طرفونو خپلو ځانونو ته شرعي نصوص او سندونه درلودل، دغه جګړه پای ته ونه رسېده او بله جګړه وتپل شوه.

پای

با سپاس از وبسایت وزین دعوت میدیا ۲٤